د۱۳۸۱ لمریز دغبرګولي ۱٦

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون

د ملکي وګړو شمیر د۲۰۱۰ کال په اوو لمړیو میا شتو کی (د جنوري د لومړۍ نیټی څخه د جولاي تر پای)

کابل- د ۱۳۸۹ کال د زمری ۱۷ مه- د۲۰۱۰ د اګست میاشتی له ۸ مه

دغه رپوټ چي د ۲۰۱۰ کال د لومړیو اوو میاشتو په لړ کی د ملکي وګړنو ښکارندوی دي په پوره دقت او پام سره د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کمیسیون د ولایتي سیمه یزو، او مرکزی اړوندو ځانګو له خوا جوړشوي دي.

ددې رپوټ څخه داسي څرګندیږي چي د ۲۰۰۱ کال را پدیخوا هر کال د ملکي وګړنو شمیر ډیر شوي دي، چي دا بهیر لاهم هغه شان روان دی او ملکي کسان هره ورځ په ډیرودونکی توګه د وسله والو جګړو قربانیان ګرځي.
رپوټ ښی چي د ۲۰۰۹ کال په پرتله د ملکي وګړو په وژنه کي % ۵,۵ ډیروالی راغلي دی، چي دا د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کمیسیون او نورو بشري حقونو بنسټونو د اندیښني وړ ګرځیدلي دی.
د تیر میلادی کال (۲۰۰۹) په لومړیو اوو میاشتو کي ۱۲۵۲ ملکي وګړی وژل شوي وو، خو دغه شمیر د ۲۰۱۰ کال په لمړیو اوو میاشتو کي ۱۳۲۵ تنو ته رسیږی.

د دغه وژنو د عا ملینو بیلونه د ۲۰۰۹ کال په پرتله ډیربدلون نه دي کړی. په ۲۰۰۹ کال کي د دولت مخالف وسله والو ځواکو د % ۶۷ او د دولت ملاتړو ځواکونو % ۲۵ د وژنو مسولیت درلود، په داسي حال کي چي په ۲۰۱۰ کال په لمړیو اوو میاشتو کي د دولت وسله والو مخالفینو %۶۷ اعشاریه پنځه او د دولت ملاتړی ځواکونو بیا % ۲۳ د ټولو وژل شویو ملکی وګړو مسوولیت لری. په ۲۰۱۰ کال کي هغه کسان چي د ناڅرګنده عواملو له کبله وژل شوي دي % ۲ تر تیر کال زیاتی ښی او د هغه لوي علت دا دی چي د دولت د ملاتړو او د دولت وسله والو مخالفو ځواکونو تر منځ جګړه په نا امنه سیمو کی ډیره شوی او د هغی کبله د کمیسیون څیړونکی د امنیتي ستونزو له کبله د ځینو پیښنو لامل نشی معلوموﻻی.

د ملکي وژنو ډول او لامل د دولت د ملا تړو او مخا لفینو ځواکونو د تکتیك په بدلون سره په۲۰۱۰ کال کي د ۲۰۰۹ په پرتله لږ بدلون راغلي دي. په تیر کال کي د دولت د وسله والو مخا لفینو بریدونه د سړکونو د څنډي د بمونو ایښودلو او هم د مځکي ماین د ښخولو په وسیله سره ډیر ملکي کسان وژلي دي، خو په ۲۰۱۰ کال کي دغه تکتیك په هغه خپل حال پاتي دی خو د ځان وژونکو بریدونو قربانیان د تیرکال په پر تله لږ شوي دي. په روان کال کي ترور د ځان وژونکو بریدونو ځاي نیولي دی، چي د دغه بریدونو قربانیان ددي کال په اوو میاشتو کي ۱۹۷ تنو ته رسیږي په داسي حال کي چي په همد غه موده کي تیر کال ۲۲۵ ملکي کسان ددولت د وسله والو مخالفینو له خوا ترور شو وو.
د ناپوځي کسانو ترور په ځانګړي توګه ددولت کارکونکي، د امنیتي کارکوونکو خپلوان، قومي مشران او د دولت ملاتړو وژنه د هیواد په سهیل کي ډیره شوې ده. له نیکه مرغه هوايي بریدونه چي په تیرکال کي د افغانستان د بشر د حقونو خپلواك کمیسون ته جدي ننګونه وه خو په ۲۰۱۰ کال کي ددې ډول قربانیانو شمیرلږ شوي دی. په داسی حال کی د توغندیو قربانیان پرتله شی نو په روان کال کي د ۲۰۰۹ په پر تله ډیر ملکی کسان قرباني شوي دی .
د شپې له خوا پر کورونو چاپې را ټیټي شوي دی، خو هغه وژني چي د پوځي ځواکونو د سا تني په خا طر تر شره شوي دی، په روان کال کي ئي شمیر ډیر وو.

## د ملكي وژنو شمير د ۲۰۱۰ کال په اوو لمړيو ميا شتو کی ۱۳۲۵ تنه

### 1.1 د ۲۰۰۹ کال د لمړيو اوو مياشتو سره پرتله

| | 2009 | 2010 |
|---|---|---|
| جنوری | 141 | 96 |
| فبروری | 149 | 189 |
| مارچ | 129 | 127 |
| اپريل | 128 | 122 |
| می | 271 | 181 |
| جون | 236 | 294 |
| جولای | 198 | 316 |
| مجموع | 1252 | 1325 |




د ۲۰۰۹ کال پرتله ۵,۵٪ ډيروالی

### 1.2 پرتله د لامل پر بنسټ

مخالفين مسلح دولت: 895 %67.54

نيروهای حامی دولت: 303 %22.86

نامعلوم : 127 %9.584




### 1.3 د جنسیت او عمر له مخی توپیر

نارینه: ۸۹۹

ښځینه: ۲۰۹

ماشومان: ۲۱۷

**د ماشومانو فیصدی: ۳۷,۱۶**

### 1.4 د هغو پیښو له کبله چی ډیر تلفات را منځ کیږی

د سړک د غاړی بمونه: ۴۲۵

انتحاری حملی: ۱۲۲

ترور:۱۹۷

**(د سړک د غاړی بمونو او ځمکنی ماینونو یوازی د ۲۰۱۰ کال د جون او جولای په میاشت کی د ۲۰۰ نه د زیاتو ملکیانو ژوند اخستیږ کسانو)**

## 1.5 د سمت له مخې توپير

سويل: ۷۰۱

ختيځ: ۲۳۸

لويديځ:۱۶۵

شمال:۶۴

مرکزي سيمې: ۱۱

مرکز: ۱۴۱





د افغانستان د بشرى حقونو خپلواك كميسيون
پل سرخ، دريمه کارته، کابل افغانستان
تيلفون: 020 2500676
فکس: 020 2500677
ايميل: aihrc@aihrc.org.af
سايت: www.aihrc.org.af